مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۳/۰۷/۰۸

# پر هندوستان د نابغه احمد شاه بابا د یرغل لاملونه



(د افغانستان بنسټ ایښودونکی، ستر نابغه احمد شاه بابا)

میر غلام محمد غبار په خپل کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ) په ۲۵۹- ۲۶۰ مخونو کې، د نابغه او ستر احمد شاه بابا، یرغل پر هند باندې اشتباه او ناسم عمل بللی، وایي چې د احمد شاه بابا بریدونه پر هند باندې یو عجیب، بې ګټې او مضر عمل ؤ چې له کبله یې انګرېزانو ته د پرمختګ لاره هواره کړه.

غبار چې په خپل کتاب کې یې ډېرې تاریخي پېښې د اخځ لیکونو پرته لیکلي دي، تر ځنګ یې د افغان واکمنانو په اړه خپل لیدلوری، د دې پر ځای چې پر واقعیت ولاړ وي او د افغان واکمنانو بریو او مثبتو کړنو ته مثبته بڼه ورکړي، منفي بڼه ورکړې ده. داسې ښکاري چې غبار یو منفي بافت شخص ؤ. سره له دې چې نوموړي د سردار محمد داؤد خان په غوښتنه، د (احمد شاه بابا افغان) په نوم ګټور خو مختصر کتاب هم لیکلی دی، بیا یې هم پر احمدشاه بابا د خپل عادت له مخې بې ځایه نیوکې کړي دي. د غبار له لیدلوري داسې څرګندیږي چې هغه ته ځان عقل کُل ښکاریده، هغه غوښتل د نابغه احمد شاه بابا پر وړاندې ځان یو لوی مفکر او پوه ښکاره کړي، په داسې حال کې چې نوموړی د خپلې پوهې او بې ګټې دریځ له امله خپل نیم عمر په بند او تبعید کې تېر کړی دی.

غبار د هند د پاني پت جګړې، ستره تاریخي بریا چې ټول افغان ملت ته د ویاړ شمله ده، د زرګونو افغانانو د وینو تویول، یو بې ځایه او مضر عمل بولي هغه په دې هکله لیکي:*«دولت احمد شاه در داخل شرایط خاص تاریخي، توانست که برای تشکیل مجدد افغانستان خدمت مهم سیاسي نماید، ولی نمیتوانست بکلی* ***از اشتباهات و اعمال نادرست برکنار بماند. مثلاً یکې از کارهای عجیب و بی فایده و حتی مضر او این بود که در امور داخلي هندوستان مداخله منفی نمود.***


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*به این معنی که دولت بابری هندوستان مضمحل و عاجزتر از آن شده بو که بتوانند کشور بزرگی را اداره کند، در حالیکه گرگ استعمار در کوشهٔ از خانه او کمین گرفته بود. در چنین وقتي دو قوت بزرگ و کوچک ملی در جنوب و شمال هند تشکل کرد، که آن یکی دولت مرتهه [مرهته] و دیگری قوای سکهه بود. البته احمد شاه از نظر حفظ حوزهٔ سند حق داشت که تمامیت کشور خود را تا لب دریا سند در برابر قوای توسعه طلب سکهه دفاع نماید، ولی حمله در قلب هند با مصرف خون هزاران نفر افغان و هندوستاني برای در هم شکستن قوای ملي مرته، کار خطرناکی بود، و هیچ گونه ارتباطی با منافع افغانستان یا هندوستان نداشت. نتیجهٔ این فتح درخشان در واقع عجله برای برداشتن سنگی بزرگ از دم راه استعمار انگلیس بود. احمدشاه خواست این خلای بزرگ را در هندوستان بنام دین و توسط تقویهٔ یک دولت فاسد شده که به حکم تاریخ محکوم بمرگ بود، پرکند، در حالیکه چنین نه شد، مرته کوفته شد و دولت بابري زنده نگردید، پس راه برای نفوذ استعمار بازتر شد. زیرا نه دولت افغانستان جانشین دولت مرده هند گردید ونه کدام قوت بزرگتری ملي هند. شاید در این جا توان گفت احمد شاه در زمان و مکانی بسر میبرد که پیشبینی از خطرات آینده استعمار برای او ناممکن بود.»*

غبار له دي غافل او ناخبره دی چي احمد شاه بابا ولي او د څه په خاطر پر هند برید وکړ، غبار نه پوهېږي چي احمد شاه بابا حق درلود چي پر هند برید وکړي او دا فکر هم نه کوي چي انګرېزانو ته په هند کي د پرمختګ لاره د پېړیو په اوږدو کي په خپله بي کفایته مغل پاچاهانو او ځینو خاینو هندیانو او سیکانو هواره کړه، هغه مهال چي انګرېزان په بنګال کي د تجارتي کمپنی په نوم اوسیدل، د احمد شاه بابا د ځواک پروړاندي خورا بي ځواکه وو او ځانونه يې د احمدشاه بابا تر لاس لاندي بلل، احمدشاه بابا ته یي د شاهنشاه او امپراتور خطاب کولو.

د غبار د دا ډول بي بنسټه ادعاګانو په ځواب کي زه د خپل کتاب (لوی افغانستان او ډیورنډ کرښه) څخه د احمد شاه بابا د یرغل لاملونو په اړه مالومات وړاندي کوم:

**پر هندوستان د نابغه احمد شاه بابا د یرغل لاملونه:**

د افشار نادر شاه له وژلو وروسته ابدالي احمد خان د هغه ځای ناستی شو، په دې اړه افشار نادر شاه په ځوان ابدالي احمد خان باندې زیری کوي وایي: **«ابدالي احمد خانه! په یاد ولره چي له ما وروسته به ته پاچاهئ ته ورسیږې خو ته به زما له اولادې سره په مهرباني چلند کوې.»**[1]
احمد شاه بابا په هند کي د پښتنو له ویاړلي تاریخ څخه ښه خبر ؤ چي څه ډول پښتانه په هند کي پاچاهان وو، احمد شاه بابا په دې هم پوه ؤ چي مغلو په هند کي له پښتنو څخه پاچاهي غصب کړي ده، ده د هند پښتانه پاچاهان په خپلو شعرونو کي یاد کړي دي، په دې هیله او هڅه کي ؤ چي د خپلي توري په زور به بیا په هند کي پښتنو ته پاچاهي وګټي:

**د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کـرم**
**چــي پـه تـورو پـښتانــه کـا ګـزارونـــه**
**د فرید(*) او د حمید(**) دوړ به بیا شي**
**چــي زه وکـــاندم پر هر لوري تاختونه**

----------------------------------
(*) فرید الدین: د سوري شېرشاه نوم دی چي له (۱۵۳۹- ۱۵۴۵ز) پوري په هند کي پاچا ؤ، د هند لپاره يې ډېر ګټور خدمتونو ترسره کړي دي، د ده زیارت د هند د (بیهار ایالت د ساسو رام) په سیمه کي دی.
(**) حمید: شېخ حمید لودي د ملتان پاچا ؤ د ده پاچاهي له لمغانه (لغمان) تر ټل او بنو پوري غځېدلي وه.

احمد شاه بابا په دې هم پوه ؤ چي د نادر شاه له وژلو وروسته د هند مغلي حکومت هغه تړونونه او ژمني چي له افشار نادر شاه سره یي کړي وې نه عملي کوي او له ده څخه اطاعت نه کوي (سره له دې چي احمد شاه بابا د افشار ځای ناستی ؤ.)
په هند باندي د احمد شاه بابا یرغلونو دوه موخي درلودلي: هغه تړون چي مغل امپراتور له نادر شاه سره لاس لیک کړی ؤ، د هغه عملي کول او له مغلو څخه پښتنو ته واک سپارل یا پښتانه له مغلو سره په واک کي شریکول وو. دا دوه مهم او بنسټیز لاملونه وو چي احمد شاه بابا د هند پر لور مخه کړه، احمد شاه بابا په لومړیو کي پنجاب او تر سرهند پوري جګړي وکړي، (۱۷۴۷- ۱۷۴۸ز) د سرهند په جګړه کي احمد شاه بابا له مغلو وغوښتل چي د افشار نادر شاه سره په

[1] امام الدین حسیني: تاریخ حسین شاهي،۱۷مخ؛ ډاکټر ګنډا سینګ: درانی احمد شاه، ژباړن: نصرالله سوبمن منګل، ۲۷ مخ؛ منشي عطا محمد شکارپوري: تازه نوای معارک: ۷۷۰ مخ او نور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

کړيو ژمنو عمل وکړي.**«يوه ورځ افغان احمد [احمد شاه بابا] په هندوانو، منو او نورو ميوو بار شوی اوښ له خپلو افرادو سره يو ځای شهزاده احمد ته [چې د سل زره مغلي لښکر قوماندان وُ] له يو ليک سره ولېږه احمد [احمد شاه بابا] د سولې هيله وکړه او دا شرط يې کېښود چې که د نادر [شاه افشار] په شان ده ته کابل او ټاټا [چې د مغل امپراتور او افشار په تړون کې راغلي وو.*] پرېښودل شي او هغومره پيسې چې نادر شاه له ډيلي څخه له ځان سره يوړلې هغه ته ورکړای شي نو دی به په څټ او بېرته لاړ شي.»**[2]

مغلو د احمد شاه بابا غوښتنې ونه منلې جګړه ونښته چې د هند لوی وزير اعتماد الدوله قمرالدين خان په کې ووژل شو. د احمد شاه بابا بله هيله او موخه دا وه چې په هند کې پښتانه واکمنی ته ورسيږي، هغه وو چې کله د پاني پت په تاريخي جګړه کې افغانانو ته ستر بری په برخه شو نو احمد شاه بابا هند مېشتو پښتنو سردارانو ته داسې وويل:**«ما د هندوستان هېوادونه، له ډيلي تر بنګال او دکن پورې ستاسو لپاره خالي او ستاسو له دښمنانو او مخالفانو څخه پاک کړل، اوس په داده زړه او آرامی سره ژوند وکړئ او زموږ دولت لپاره دعا کوئ.»**[3]

يادونه: د احمد شاه بابا په هکله د کتاب په دې څېرکي کې ډېر په زړه پورې مالومات راغونډ شوي دي چې په يو مناسب وخت کې به خپاره شي.

نېټه: ۱۴۰۲/۴/۱۵ل. ل

**پای**

---

(*): د علامه عبدالحی حبيبي په (تاريخ تجزيهٔ شاهنشاهی افغان) په ۱۱- ۱۲- ۱۳مخونو کې د افشار نادر شاه او مغل امپراتور محمد شاه رنګيلا په تړون کې چې د ۱۱۵۲هـ، کال د محرم مياشتې په ۴مه نېټه لاس ليک شوی دی، په تړون کې د سېند سيند لوېديځې سيمې نادر شاه ته پرېښودل شوې دي او د سېند سيند لوېديځ لوري، د کابل او ټاټا (ننی کراچي) په ګډون د ټولو سيمو نومونه راغلي دي چې پخوا د هند پر مغلي امپراتوری پورې مربوطې وې.

[2] ډاکټر ګنډا سينګ: درانی احمد شاه، ۸۵- ۹۳مخونه
[3] امام الدين حسيني: تاريخ حسين شاهي، ۴۶مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ